مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۶/۰۴/۱۹

# د میرویس نیکه د پاځون تاریخي منابع

په کندهار کې په اته لسمه پېړۍ کې دوې تر ټولو لویې تاریخي پېښې د ځلوېښتو کلونو کې په اوږدو کې منځته راغلې. لومړۍ، د ایران د صفوي امپراطورۍ په مقابل کې، د میرویس نیکه ملي پاځون وو چې کورني رقابت او دښمنۍ یې لنډ عمر ته خاتمه ورکړه او دوهم په کندهار کې د احمدشاه بابا له خوا د پښتنو د لومړني مستقل دولت تاسیس وو چې تر نن ورځې پورې یې دوام کړی دی.

د میرویس نیکه پاځون په اته لسمه پېړۍ کې په ۱۷۰۹ کال کې بریالی سو او باید چې په هغه باره کې نسبتاً زیات تاریخي متون او اسناد موجود وای خو څرنګه چې په کندهار کې هیڅ چا دا مهمې پېښې ثبت کړي نه دي او په بهر کې هم یوازې د مسیحي سیاح یا پادري تادیوش کروزینسکي خاطرات موجود دي. دغه راز شیخ محمدعلی حزین، چې په هغه زمانه کې یې ژوند کړی دی، د کندهار پېښو او د میرویس نیکه پاځون ته ډېره مختصره اشاره کړې ده او یوازې دونه یې لیکلي دي چې د غلجیو د قبیلې مشر میرویس نومي، چې د کندهار د حاکم په خدمت کې وو، د ده شیخ په کلي کې امیرالامراء شهنواز خان په غدر ووژاه اود کندهار د قلا ټوله خزانه او مالونه یې ترلاسه کړل.

بله تاریخی منبع چې زموږ ټولو داخلي مورخینو او مستشرقینو د هغه له کتاب څخه استفاده کړې ده هغه د انګلیس لیکوال جوناس هانوي ۱۷۱۲- ۱۷۸۶ تاریخ دی، چې ډېره زیاته برخه یې د هغه خپلې افساني دي او هیڅ ډول استناد نه لري. په داسې حال کې چې نوموړی مورخ، چې په لومړي سر کې یو عادي سوداګر وو، د میرویس نیکه له پاځون څخه درې کاله وروسته زېږېدلی دی او له پاځون څخه څه کم پنځه دېرش کاله وروسته یې په ۱۷۴۳ کال کې د ایران په استراخان کې نادرافشار له لیرې لیدلی او ښایي د دغي سیمي له تاریخ او کلتور سره یې علاقه پیدا سوې وي. هانوي، د مسیحي سیاح کروزینسکي له خاطراتو پرته، هیڅ ډول تاریخي منبع او ماخذ په لاس کې نه درلود او پر هغه خاطراتو برسېره یې نور هرڅه له ځانه لیکلي دي. خو له بده مرغه چې زموږ افغان مورخینو او خارجي محققینو د هانوي هغه افساني ټکي په ټکي را اخیستي دي.

تاریخي منابع تقریباً ټول دا وایي چې د کندهار او شاوخوا خلک د هغې سیمې لپاره د ایران د صفوي دولت له خوا د ټاکل سوي بېګلربېګي یا امیرالامراء ګرګین خان له ظلمونو څخه په تنګ ول. میرویس نیکه په هغه وخت کې د پښتني اقوامو او د هغې سیمي د اوسېدونکو کلانتر یا ملک وو چې د خلکو عرضونه او شکایتونه یې ګرګین ته رسول او ضمناً یې د سیمي د مالیاتو د غونډولو وظیفه پر غاړه درلوده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د کروزینسکي له خاطراتو څخه ښکاري چې میرویس نیکه یو شته من سړی وو او له هند سره د سوداګرۍ له لارې یې ډېره شته مني جمع کړې وه. ګرګین د هغه له قومي نفوذ څخه وېرېدی او هر وخت یې د هغه د له منځه وړلو لپاره دسیسې کولې. ګرګین بالاخره، د مهمو اداري کارونو په پلمه، میرویس نیکه اصفهان ته واستاوه او ضمناً یې د دربار لپاره داسې یو مکتوب ورکړ چې په حقیقت کې د میرویس نیکه د مرګ فرمان وو. په مکتوب کې یې لیکلي وه چې میرویس یو سرکښه سړی دی او له هغه څخه هر وخت د خلکو د لمسولو اندېښنه موجوده ده نو لازمه ده چې هغه لرېترلرې په اصفهان کې وساتل سي.

د تاریخي منابعو په حواله، میرویس نیکه، د یوه هوښیار افغان په حیث، د ایران د دربار وضع او په هغه هیواد کې روان اداری فساد او د دربار خرافات پرستي له نیژدې ولیده او په دې پوه سو چې ایران نه یوازي د افغانانو، ګرجیانو، ارمنیانو، کردانو او آذریانو لاندې کړي سیمې ساتلای نه سي بلکه پخپله د ایران دولت په دغه حال کې دوام نه سي کولای. میرویس نیکه، د ایران د صفوي شاه حسین درباریان په تحفو او پیسو د ځان طرفداران کړل او وروسته یې د اصفهان له دربار څخه د حج د فریضې د ادا کولو اجازه ترلاسه کړه. په مکه معظمه کې یې د سنی علماوو څخه د کندهار د ګرجي حاکم پر ضد د جهاد فتوا ترلاسه کړه او لا یې د ګرګین په باره کې د ایران د دربار ذهنیت ته هم تغییر ورکړ او پخپله صفوي شاه حسین او نور درباریان یې د هغه پر نیتونو باندې شکمن کړل. میرویس نیکه په ډېر پوره زړه د کندهار پر لور روان سو او کندهار ته له رسیدلو سره سم یې له ځینو نیژدې قومي مشرانوسره وکتل. هغوی ته یې د مکي معظمي د علماوو فتوا وښودله او د فرصت په لټه کې سو. زه یقیین لرم چې نورو دوستانو به په خپلو مضامینو کې په دې باره کې بشپړ تفصیل ورکړی وي.

مرحوم عبدالحی حبیبي په پټه خزانه کې د ریدي خان د محمود نامي په نامه نظم په حواله ادعا کوي چې میرویس نیکه څلور ځله اصفهان ته سفر وکړ او د شاه حسین په دربار کې یې د ګرګین د ظلمونو او تیریو له لاسه شکایتونه او عرضونه وکړل. مرحوم حبیبی لیکي چې شاه حسین د هغه پر عرایضو او شکایتونو غوږ ونه نیوی او لا یې ورته وویل چې زه پخپله هم له ګرګین څخه وېرېږم او پر هغه باندې زما امر نه چلیږي. تاریخ مختصر افغانستان ص ۲۴۳

البته بله هیڅ تاریخي منبع موږ ته نه وایي چې میرویس خان دي اصفهان ته دوهم ځل سفر کړی وي. بلکه میرویس نیکه هغه یو ځل هم د ګرګین په امر اصفهان ته تللی او هلته یې په خپله سیمه کې د ګرګین پر ضد د پاڅون فکر کړی او ترتیب یې نیولی دی. دا غیر ممکنه وه چې میرویس خان دي د ګرګین په څېر یوه ظالم او ضمناً کل اختیار بېګلربېګي په موجویت کې د هغه پر ضد څلور ځله اصفهان ته سفر کړی او لا مهمه دا چې صفوي شاه حسین دي د میرویس په څېر یوه بېګانه سړي ته خپله کمزوري وښیي او هغه ته دي ووایی چې له ګرګین څخه پخپله وېره لري او هغه د ده امر نه مني.

له بلي خوا تاریخي منابع وایی چې ګرګین په ۱۷۰۰ کال کې د بلوڅانو د ځپلو لپاره کرمان ته ولاړ او هغوی ته یې سخته ماته ورکړه. څرنګه چې بیا هم د بلوڅانو د حملو خطر لیده کیدی نو تر ۱۷۰۴ کال پوري په کرمان کې پاته سو. ګرګین یا دریم شهنواز د ۱۷۰۴ کال په اوړي کې پر کندهار باندې د بلوڅانو د یوې سختي حملې د ځپلو لپاره کندهار ته واستول سو. داکترلاکهارټ، انقراض سلسله صفویه و ایام استیلای افاغنه در ایران ص ص ۵۳


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې حساب گرگين، په کندهار کی  له مقررېدلو څخه تر وژل کېدلو پوري، يوازي پنځه کاله په کندهار کي پاته سوی دی. که ميرويس نيکه په هرو دوو کالو کي يو ځل اصفهان ته سفر کړی وي دا اته کلونه کيږي او تر دوو کالو په کمه موده کي له کندهار څخه تر اصفهان پوري سفر، د ميرويس نيکه لپاره،  چنداني ممکن نه وو. ځکه چي گرگين به هيڅ وخت هغه ته دا اجازه نه وای ورکړې چي د ده له اجازې پرته پايتخت ته سفر وکړي.

حتی مرحوم حبيبی خو لا د ميرويس نيکه د پاڅون کال ۱۷۰۷ ميلادي بولي. ځکه دی وايی چي د ميرويس نيکه د پاڅون د نېټي په برخه کي د پټي خزانی قول تر ټولو د اعتبار وړ دی ځکه چي د کتاب ليکونکی د پاڅون به وخت کي حاضر وو. تاريخ مختصر ص ۲۴۴

په دې حساب بايد چي گرگين په کندهار کي يوازي درې کاله د بېگلربيگي په حيث پاته سوی وي. او په درې کاله کي نو بيا اصفهان ته د ميرويس نيکه د څلور ځله سفر احتمال بېخی له منځه ځي.

خو هوتکنامه، چي عبدالغفار هوتک د تيمور شاه په زمانه کي ليکلي او د ميرويس نيکه د پاڅون کلونو ته تر ټولو نيژدې ليکل سوی داخلي اثر دی، په کندهار کي د گرگين او د هغه د عسکرو د بېحده ظلمونو يادونه کوي او ليکي چي ميرويس خان د گرگين او د هغه د عسکرو د ظلمونو د لاسه د اصفهان دربار ته په شکايت ولاړ. هوتکنامه ص ص ۲۱-۲۳

هوتکنامه هم اصفهان ته د ميرويس نيکه يوازی د يوه ځل سفرکولو يادونه کوي او ليکي چي د ايران پاچا د ميرويس خان په عرايضو غوږ ونه نيوی او هغه ته يې ډېر سنغ جواب ورکړ ځکه نو ميرويس نيکه په مکه معظمه کي د سني علماوو څخه د فتوا ترلاسه کولو وروسته د خپل اولس د ژغورني په فکر کي سو.

کروزينسکي ليکي چي ميرويس خان له اصفهان څخه کندهار ته له ستنېدلو څخه وروسته د خپلو قومي مشرانو سره سلا مشورې وکړې او هغوی ټولو له هغه سره په قرآن سوگند وکړ چي د کندهار د ژغورني لپاره هر ډول قربانی ته تيار دي. ميرويس خان هغوی ته وويل چي تاسي د بلوڅو له لاسه گرگين ته شکايت وکړی چي هغوی هر وخت راځي اوزموږ څاروي را څخه بيايي. گرگين د هغوی د ځپلو لپاره له ښاره ووت او ميرويس خان په دغه وخت کي بلوڅانو ته اطلاع ورکړه چي له گرجيانو سره جنگ ته تيار اوسی. کروزينسکي ليکي چي کله گرگين ده شيخ ته  ( د کندهار د ارغسان په سيمه کي يو لوی کلی دی) ورسېدی نو د ميرويس خان سړي هغه ته د سلام په پلمه ورنيژدې سول او سمدستي يې حمله ورباندي وکړه او ټول يې ووژل. تاريخ سياح مسيحی ص ص ۲۴-۲۵

هانوی د دغي جگړې په باره کي يوه افسانه جوړه کړې ده چي هيڅ ډول استناد نه لري؛ خو له بده مرغه چي زموږ ډيروزياتو مورخينو هغه افسانه اخيستي او په کتابونو کي يې درج کړې ده او حتی زموږ د ښونځي په کتابونو کي هم ليکل سوې وه.

هانوې ليکي چي گرگين ته چا احوال ورکړی وو چي ميرويس يوه ښکلي لور لري. که هغه ورڅخه وغواړې، چي البته هغه انکار هم نه سي کولای نو په دې توگه به له ميرويس سره خپلوي وکړې او د هغه له خوا به دې زوه ببغمه سي. هانوې ليکي چي گرگين هم ميرويس ته سړی واستاوه او د هغه د لور غوښتنه يې ورڅخه وکړه. ميرويس دا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

غوښتنه له خپلو قومي مشرانو او خانانو سره مطرح کړه او هغوی ټولو دا د پښتنو لپاره سپکاوی وباله. هانوې لیکي چې دلته دوې خبرې وې یا به یې د ګرګین غوښتنه منلای او یا به یې له هغه سره مقاومت کولای. په مجلس کې ډېر زیات حاضر کسان له ګرګین سره د مقاومت او جګړې طرفداران ول. دلته هانوې د یوه خان له قوله یوه احساساتي وینا ثبتوي او له میرویس څخه غواړي چې د ګرګین جواب دې په توره ورکړه سي. داوینا هم طبیعي خبره ده چې د ده د خپل قلم محصول ده او په هیڅ ماخذ کې نسته ، ځکه نو د هغې وینا له راوړلو څخه تېرېږم.

هانوی وروسته لیکي چې میرویس قومي خانانو ته قناعت ورکړ چې د تلوار پر ځای له تدبیر څخه کار واخلي او پر دې خبرې فیصله وسوه چې میرویس به خپله یوه ښکلې مینځه د خپلې لور په نوم ګرګین ته لیږي اووروسته به د نورو اقداماتو په فکر کې کیږو.

هانوی لیکي چې میرویس د مجلس له ختمېدلو سره سم خپله یوه ښکلې مینځه سینګار کړه او د ګرګین دربار ته یې ولېږله. میرویس د دې ترڅنګ د ګرګین پوځي او ملکي افسرانو ته تحفې او رشوتونه ورکړل او هغوی له ده سره ژمنه وکړه چې ګرګین به له ده سره پخلا کوي او د هغه له زړه څخه به ټول شکونه باسي. هانوې ص ۴۵

هانوې وروسته لیکي چې میرویس د ترینو قبیله ښورښ ته ولسموله او ګرګین ته یې د هغوی د ځپلو بلنه ورکړه. میرویس ګرګین ته پیشنهاد وکړ چې د ترینو د قبیلې د ځپلو په لاره کې دې د ده په باغ کې مېلمه سي. کله چې ګرګین له خپلو ټولو عالي رتبه کسانو سره د میرویس باغ ته ورغی نو میرویس یې ډېر عزت وکړ. ډېر زیات شراب یې ورباندې وچښل او کله چې هغوی نشه سول نو ټول یې ووژل. Hanway. The Revolutions of Persia pp 43-47

مورخ محمد صدیق فرهنګ، د نورو مورخینو په څېر، د هانوې د متن استناد ته هیڅ توجه نه ده کړې او د هانوې متن یې تقریباً کټ مټ را اخیستی دی. افغانستان در پنج قرن اخیر، چاپ سه جلدی سال ۱۳۷۱ تهران ص ۶۹

خبره چې هر ډول وي دا یو حقیقت څرګند دی چې میرویس نیکه د ګرګین ټول ورسره ملګري عسکر ووژل او په هغه شپه یې د کندهار پر لور حرکت وکړ او په ښار کې یې د ګرګین ټول باقي پاته عسکر قتل کړل. میرویس نیکه د ښار د قلا او خزانې ترلاسه کولو وروسته، د خپل وراره حاجي انګو په لاس، یو مکتوب د هند مغولي دربار ته واستاوه او له هغوی څخه یې وغوښتل چې که چیرې اصفهان پر کندهار باندې حمله وکړي او کندهار ښایی د هغوی د حملو طاقت ونه لری نود هند دربار باید د کندهار د خلکو ملاتړ وکړي.

دغه راز یې بل مکتوب د ایران دربار ته واستاوه او صفوي شاه حسین او د هغه صدراعظم ته یې ولیکل چې افغانان د ګرګین له ظلمونو څخه په تنګ ول او د ګرګین د وژلو اقدام یې وکړ نو که تاسې د افغانانو د ځپلو لپاره لښکر را ولېږی افغانان ښایی مقاومت ورسره وکړي او که یې مقاومت په وس پوره نه وونو ښایی کندهار د هند مغولي دولت ته وسپاري نو بهتره به دا وي چې تاسي تر یوه وخته پوري صبر وکړی څو زه دا قوم کرار کړم او په لازم فرصت کې به اقدام وکړو ځکه چې زه ستاسې دوست یم او افغانان به ستاسې په سلطنت راضي کړم. کروزینسکي. تاریخ سیاح مسیحی ص ص ۲۶-۲۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ

مرحوم حبیبی، قاضي عطاءالله خان اوګڼ نور مورخین د مغولي دربار د مورخ خافي خان د تاریخ « منتخب اللباب» په حواله لیکي چي مغولي دربار په ښکاره د میرویس خان غوښتني ته لبیک وواېه خو په پټه یې صفوي دربار ته ولیکل چي میرویس ډېر بد کار کړی او د هغه په ځپلو کي موږ هم ستاسي سره ملګري یو. حبیبی. تاریخ محتصر ص ۲۴۴

که څه هم چي د خافی خان په تاریخ کي دغه موضوع راغلي ده خو زه فکر کوم چي که چیري داسی یو مکتوب موجود وای نو کروزینسکی، چي د هغه وخت تولي پیښي یې تعقیبولې، دې مهم مکتوب ته حتماً اشاره کوله. له بلي خوا که چیري د هند د مغولي دربار او د ایران د صفوي دربار تاریخي دښمنیو ته وګورو نو دا چنداني ممکنه نه ښکاري چي د هند دربار دي د ایران صفوي دربار ته داسي یو مکتوب لیږلی او د صفوي دربار سره یې خپلي د څه د پاسه یوې پېړۍ دښمنۍ هیري کړي وي.

د خوشحال خان خټک لمسي افضل خان خټک په خپل کتاب تاریخ مرصع کي دې موضوع ته اشاره کړې ده او لیکي چي کله د میرویس استازی ډهلي ته ورسېدی دا وخت اورنګزېب وفات سوی او د هغه زوی بهادرشاه د قدرت پر ګدۍ ناست وو. د میرویس وراره له بهادرشاه سره په سرهند کي وکتل او هغه د میرویس وراره ته درې زري منصب ورکړ او میرویس ته یې پنځه زري منصب ورکړ او حکم یې وکړ چي کندهار دي هم د میرویس په واک کي وي خو په هغه ښار کي دي زما سکه چلیږي او زما په نوم دي خطبه ویله کیږي. . . تر دغه تاریخه چي سنه زر سل څلېرویشت ده ( ۱۷۱۲) په کندهار کي ناست دی خپل حکومت او سرداري کوي. توفیق یې رفیق شه ښه پښتون دی. تاریخ مرصع ص ۴۰۲

یوه بله موضوع چي زموږ ټولو مورخینو، مرحوم حبیبی، مرحوم بېنوا، مرحوم غبار، مرحوم فرهنګ او . . . اخیستي ده هغه له میرویس سره د سولي د خبرو لپاره هغه ته د شاه حسین صفوي د استازو لېږل دي. دا موضوع هم هانوې له ځانه جوړه کړې ده. د میرویس لپاره یې استازي پیدا کړي دي او د هغوی په مقابل کي یې میرویس ته احساساتي ویناوي جوړي کړي دي.

هانوې لیکي چي د شاه حسین دربار له میرویس سره د مخامخ او سمدستي جګړې له پیل کولو څخه مخکي له هغه سره د سولي کوښښونه پیل کړل او ضمناً یې د پوځي تیاري کار هم پیل کړ.د شاه حسین دربار د محمدجاني خان په نوم یو سړی د دې کار لپاره انتخاب کړ. کله چي محمدجاني خان د میرویس دربار ته ورسېدی نو لومړی یې ډېري پستي خبري پیل کړې او په وروسته کي یې میرویس ته وویل چي کندهار په آرامه سره بیرته صفوي دربار ته وسپاره او پر ښار باندي د بلا د نازلېدلو مخه ونیسه په دې توګه به د شاه رضاییت ترلاسه کړې او هغه ته به منلی اوسي.

کله چي میرویس جاني خان دا خبری واورېدلي نو په غوسه سو او هغه ته یې وویل چي ته فکر کوې عقل یوازی په قصرونو او دربارونو کي دی؟ په غرونو او کنډوالو کي عقل نسته. ته باید په دې وپوهیږې چي دلته ټول کسان ستا په چلونو او دامونو پوهیږي. ستا د پاچا چي هر څه په وس پوره دي هغه دي وکړي. . .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

میرویس خان د صفوي دربار استازی بندي کړ. څه موده وروسته صفوي دربار یو بل استازی، چي د هرات د گورنر محمدخان مرستیال وو او له میرویس سره حج ته تللی وو، له میرویس سره د خبرو لپاره کندهار ته واستاوه خو میرویس هغه هم بندي کړی او د ایران دربار مجبور سو چي د پوځي حل او زور څخه کار واخلي. Hanway pp 51-52

دا افسانی یوازي افغاني محققینو نه بلکه لویو اروپایی محققینو هم اخیستي دي او یوه هم دا فکر نه دی کړی چي د هانوي مآخذ څشي دی.

د کروزینسکي له تاریخ څخه څرګندیږي چي د ایران صفوي دربار په ۱۷۱۲ کال کي د گرګین د وراره خسرو خان تر مشرۍ لاندي ۱۶ زره کسیز پوځ د کندهار د بیرته نیولو لپاره واستاوه. دا پوځ له گرجیانو او قزلباشو څخه جوړ سوی وو. البته د ایران د دایمي فساد او کمزوري اداري له امله د گرجیانو او قزلباشو ترمنځ سم تنظیم موجود نه وو او پوځ د کندهار پر لور ډیر ورو حرکت کاوه.

په دغه وخت کي میرویس د کندهار د شاوخوا ټول حاصلات وسوځول او چي په کلیو کي خلک اوسېدل هغوی یي ښار ته ننه ایستل. کله چي خسرو خان د کندهار شاوخوا ته ورسېدی نو ویي لیدل چي هلته هیڅ خوراکي مواد نه پیدا کیږي او ټول کښتونه سوځېدلي دي. څرنګه چي د مني موسم وو او د یخني موسم پر پیل کېدلو وو نو قزلباش عسکر له گرجیانو څخه بېل سول او د ایران پر لور یي حرکت وکړ. خسرو خان هم په قزلباشو پسي حرکت وکړ. میرویس پر هغوی باندي د شا له خوا حمله وکړه او ډېر درانه تلفات یي ورته ورسول. خسرو خان په جنګ کي ووژل سو او د ایران لښکر ټول تارو مار سو. تاریخ سیاح ص ۲۷

هانوې بیا هم د ایران د لښکرو شمېر ډېر زیات ښیي او لیکي چي د ایران په لښکرو کي ۳۰ زره قزلباش او ۱۲۰۰ گرجیان ول. ص ۵۴

البته هانوې پر کندهار باندي د خسرو خان د حملي څخه مخکي د تبرېز د خان، محمدخان د لښکر کښی یادونه کوي او وایی چي هغه د میرویس د حملو په مقابل کي ماته وکړه او دی پخپله او درې زامن یي د میرویس عسکرو ژوندي ونیول او بندیان یي کړل. هغه کتاب ص ۵۳

مرحوم حبیبي هم دغه متن را اخیستی دی. البته مرحوم حبیبي لیکي چي د ایران دربار د هرات گورنر ته، چي د محمدخان پر ځای مقرر سوی وو، په ۱۷۱۰ کال کي پر کندهار باندي د حملي امر ورکړ. میرویس له ۵ زرو عسکرو سره د هغه مقابلي ته ور ووت او هغه ته یي سخته ماته ورکړه.

مرحوم حبیبی لیکي چي د ایران دربار په ورپسي ۱۸ میاشتو کي څلور ځله پر کندهار باندي حمله وکړه او وروستی حمله یي د تبرېز د خان، محمدخان تر مشرۍ لاندي وه. په دغه وروستي جنګ کي د محمدخان د عسکرو څه باندي ۱۰۰۰ تنه قتل سول او پخپله محمدخان له دریو زامنو سره ونیول سو او بندي سو. تاریخ مختصر ص ۲۴۶


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

البته مرحوم حبيبي دا متن هم له هانوې څخه اخيستی دی او خپل مآخذ يې نه دی ښودلی. په داسی حال کي چې د تاريخ دغه برخه هم هانوې له ځانه جوړه کړې ده او هيڅ ډول ماخذ نه لري. مرحوم غبار د دغه جنګ داستان په ډېرو احساساتي کلماتو اخيستی دی او د يوه مورخ په حيث يې د مآخذ خيال نه دی ساتلی.

د ميرويس نيکه وفات:

د ميرويس نيکه د وفات څرنګه والی کوم تاريخ نه دی قيد کړی او د وفات د کال په برخه کي يې هم چنداني اتفاق موجود نه دی. مرحوم حبيبي د هغه د وفات کال ۱۱۲۷ هجري ثبت کړی دی. هانوې خو وايي چې ميرويس په خپل ژوند کي خپل ورور ميرعبدالله ( په نورو تاريخي متونو کي ميرعبدالعزيز دی) خپل ځای ناستی ټاکلی وو. ص ۵۹

زياتره تاريخي متون ليکي چې څرنګه چې د ميرويس خان دوه زامن، محمود اته لس کلن او حسين شپاړس کلن وو نو مشرانو د ميرويس ورور عبدالعزيز د مشر په حيث وټاکی. په داسی حال کي چې په پښتنو کي خاني هر وخت ميراثي شکل درلود او د پاچا کېدلو يا مشر کېدلو پهصورت کي د عمر کموالي هيڅ وخت چنداني اهميت نه دی درلودلی او دا چې ميرويس نيکه، د خپل قدرت د کلونو په دوران کي د يوه قومي مشر په حيث نه بلکه تقريباً د يوه پاچا يا لړترلږه د يوه لوی او بريالي پوځي مشر او جنرال په حيث د ايران له قواوو سره مقاومت کړی وو نو د هغه مقام بايد چې ميراثی وای.

په دې برخه کي بيا هم هوتکنامه، چې د لومړي ځل لپاره، په ۲۰۰۰ کال کي چاپ سوه، موږ ته وايی چې د ميرويس خان ورور عبدالعزيز هغه ته زهر ورکړل او لا يې د هغه وراره يار محمدخان، چې د هند دربار ته د ميرويس نيکه د استازي حاجي انګو ورور کيدی، قتل کړ. هوتکنامه ص ۴۲

تقريباً ټول تاريخي متون پر دې خبري متفق دي چې عبدالعزيز د ميرويس نيکه په څېر زړه ور نه وو او غوښتل يې چې د ايران له دربار سره روغه وکړي او حتی کندهار بيرته د هغوی غيرمستقيم واک ته وسپاري او د ايران له دربار څخه يې غوښتي وه چې هغه دي د کندهار بيګلربيګي وټاکي او دا مقام دي د هغه په کور کي ميراثي کړي.

مرحوم حبيبي ليکي چې هرکله افغان وطن پالونکي يا د مرحوم حبيبي په اصطلاح مليون خبر سول نو د عبدالعزيز په مقابل کي را وپاڅېدل او د ۴۰ زره په شمېر د ميرويس له مشر زوی محمود سره ملګري سول  پر عبدالعزيز باندي يې حمله وکړه او هغه يې وواژه. خو مرحوم حبيبي د پټی خزانی د مولف قول، چې وايی عبدالعزيز د نارنج له قصر څخه لاندي ولوېدی او مړ سو، تاييدوي. تاريخ مختصر افغانستان ص ص ۲۴۹-۲۵۰

خو هوتکنامه وايی چې شاه محمود له خپلو ملګروسره په عبدالعزيز باندي حمله وکړه. نه يوازي عبدالعزيز بلکه ټول هغه کسان يې ووژل چې د يارمحمد په قتل کي يې لاس درلود. هوتکنامه ص ص ۵۶-۵۷

د ميرويس نيکه اجرآت:

د ميرويس نيکه د داخلی اجرآتو او د حکومت کولو د طرز اوتشکيلاتو په باره کي تاريخي منابع څه نه وايی. موږ يوازي دونه پوهيږو چې هغه اته يا نهه کاله په کندهار کي قدرت درلودلی او څرنګه چې د ايران منظمو پوځونو ته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

یي شکستونه ورکړي دي نو طبيعي خبره ده چي يو لايق جنرال به وو. دا چي له وفات څخه وروسته خلکو هغه ته د نيکه لقب ورکړی او تر اوسه پوري يي خلک زيارت ته ورځي نو سړی په جرأت سره ويلای سي چي هغه به ښه عادلانه حکومت کړی وي. ځکه چي هغه د وفات په وخت کي دونه زوړ نه وو چي د نيکه لقب دي ورکړه سي. دا لقب خلکو هغه ته د محبوبيت له کبله ورکړی دی او تر اوسه هم خلک د يوه قايد په سترګه ورته ګوري.

په دې برخه کي بيا هم يوازي هانوې، چي بيا هم هيڅ ډول ماخذ او استناد نه لري ليکي« هغه د څه وخت لپاره ځانته د پاچا لقب غوره کړ او د هغه په نامه به خطبه ويل کېدله. وروسته يي د پاچهی بله نخښه هم خپله کړه چي هغه په خپل نامه د سکی جاري کول وه. او پر سکه باندي يي يو بيت،چي په انګليسي ژبه يي ترجمه داسي کېدلای سي، وليکی:

« د نړۍ امپراطور ستايلی ميرويس، چي يو عادل واکمن دی، په خپل هستوګنځي کندهار کي په خپل نامه سکه ووهله» هانوې ص ۵۷

دا بيت وروسته محمدصديق فرهنګ په خپل تاريخ، افغانستان در پنج قرن اخير، کي اخيستی دی او ليکي: . . . هانوې چي د ميرويس معاصر وو ليکي چي ميرويس د پاچهی اعلان وکړ او فرمان يي صادر کړ چي د هغه په نامه دي سکه جاري سي او د هغی سکي متن هانوې په انګليسي ژبه وليکی. د دې بيت مضمون په فارسي ژبه چاته معلوم نه وو تر څو چي استاد خليل الله خليلی په ۱۹۷۴ کال کي د عراقي تاريخ ليکونکو د آثارو په حواله يو مضمون خپور کړ او د هغي سکي فارسي متن يي داسي وليکی:

سکه زد بر درهم دارالقرار قندهار »«»« خان عادل شاه عالم ميرويس نامدار

څرنګه چي دا بيت د هغه انګليسی عبارت سره، چي هانوې تقريباً دوه سوه کاله مخکي خپور کړی وو، مطابقت لري نو دا ادعا تاييدوي چي ميرويس پاچهي اعلان کړې وه» افغانستان در پنج قرن اخير ص ۷۳

د فرهنګ لپاره لازمه نه وه چي د دونه مهمي ادعا د اثبات لپاره دومره کمزوری استناد وکړي. لومړی خو هانوې د ميرويس نيکه معاصر نه وو. مخکي مو ويلي وه چي هغه د ميرويس نيکه له پاڅون څخه درې کاله وروسته په انګلستان کي زېږېدلی وو او تر ۱۷۴۳ کال پوري يي چي نادرشاه افشار يي په استراباد کي د هغه په کمپ کي له ليري ليدلی وو، د هوتکو او نادرافشار او صفويانو نومونه اورېدلي نه وه او د خپلي دونه مهمي ادعا لپاره هيڅ ډول استناد نه لري.

دوهم داچي خليلي وايی د عراقي تاريخ ليکونکو په حواله يي دا ليکنه کړې ده. عراقي تاريخ ليکونکي څوک دي؟ نوم نه لری؟ د کوم يوه تاريخ ليکونکي نوم يا د کتاب نوم يي بايد ذکر کړی وای. دا څرنګه تاريخ ليکونکي دي چي موږ د يوه نوم هم نه دی اورېدلی.

دريم داچي د فرهنګ متن پخپله ثابتوي چي دا د خليلی شعر دی ځکه چي هغه په اصطلاح! د عراقي مورخينو له قوله د نظم مفهوم په فارسي ليکلی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

ځلورم دا چي دا يو غير منطقي بيت دی. ميرويس نيکه چي ايله کندهار او قلات يې تر واک لاندي وه څرنګه ځان شاه عالم يا د نړۍ پاچا بولي. او کله چي ځان د نړۍ پاچا وبولي نو بيا څرنګه سمدستي ځان ته خان عادل وايی. د خان مقام خو د يوه حاکم او ګورنر تر مقام هم ټيټ دی پاچاهي او هغه هم د نړۍ پاچهي خو لا هلته پرېږده.

هانوې دغه راز څو بيتونه په شاه اشرف پورې هم تړلي دي چي لومړی خو به هيڅ پاچا، په ځان پوري داسي تومت ونه کړي او بل که د شاه اشرف تير ژوند او هوښياری ته وکتل سي نو د داسي بيتونو يا متن ليکلو احتمال چنداني نه ليده کيږي. او که خپله مخکنی خبره يو ځل بيا تکرار کړو نو هغه دا چي هانوې بيا هم هيڅ ډول مآخذ نه ښيي اونه يې لري.

شاه اشرف د قدرت له لومړيو شپو څخه د ترکيي سره مخالفت درلود او دوه ځله د جنګ ميدان ته ورسره ووت. هانوې ليکي چي شاه اشرف د ترکيي عثماني خليفه ته د عبدالعزيز په نوم يو استازی واستاوه او هغه ته يې يو ليک ورکړی وو چي يوازي به يې خليفه ته سپاري. او په هغه کی يې داسي لهجه کارولي وه چي ډېره سپينه وه او چنداني يې د خليفه احترام نه وو پکښي ساتلی. اشرف په هغه ليک کي ځان شهنشاه بللی وو او خپل ليک يې په يوه عربي شعر پای ته رسولی وو چي د هانوې په قول هم رومانتيک او هم ډېره لويه ادعا پکښی سوې وه:

توره اونېزه زموږ لپاره د ريحان په څېر خوشبويه بوټي دي

موږ د نرګس ګلونو او عيش او نوش ته په سپکه سترګه ګورو

زموږ څښاک د دښمن ويني دي

او د سرونو له کاسو څخه يې ځانونو ته پيالي جوړوو. Hanway. P 236

البته دا بيتونه په هيڅ تاريخي متن کي وجود نه لری او طبيعي خبره ده چي دا د هانوې د خپل خيال محصول دي. دا داسي کلمات دي چي هيڅ پاچا په خپل پيغام کي کار نه ورڅخه اخلي او هيڅ پاچا خپل ځان او خپل قام ويني چښونکی نه معرفی کوي.

هانوې دغه راز ادعا کوي چي د اشرف پر مهر باندي هم دغه ته ورته کلمات ليکل سوي وه:

« د الله د اوامرو او فرايضو وفادار او مطيع رعايت کوونکی. د څلورو راشده خلفاوو ابوبکر، عمر، عثمان اوعلي د پېښو خاوري. اشرف د الله په اجازه د نړۍ د پاچاهانو تر ټولو ستړپاچا دی» هغه کتاب هغه مخ.

د ميرويس نيکه د پاڅون په څېر يوې مهمي پيښي په باره کي زموږ اطلاعات اوس هم ناقص دي. موږ د هغه د پاڅون او وروسته پېښو په باره کي ډېر لږ موثق اطلاعات لرو. خو د معلوماتو کموالی د دې معنا نه لري چي بايد په هر ډول بې باوره او غير مستندو ليکنو باور او استناد وسي.

د ميرويس نيکه په باره کي د سوېډني افسر خاطرات:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

جوناس هانوې که هرڅه ليکلي دي خو ځان يې په يو څه خبر کړی او وروسته يې د تاديوش کروزينسکي پر خاطراتو باندي خپلي خبري اوحتی افساني ورزياتي کړي دي. خو په دې ترڅ کي، حتی مخکي له هغه چي د کروزينسکي خاطرات، چي د صفوي دولت په مقابل کي د ميرويس نيکه د پاڅون په باب د تقريباً ټولو مورخينو د اطلاعاتو اصلي منبع ده، چاپ سي په لندن کي، د ميرويس نيکه په باره کي، يو داسی کتاب چاپ سو چي په هيڅ توګه يې د ميرويس نيکه د وخت له پيښو سره سرنه خوري او داسي کيسي پکښی راغلي وې چي په يوه بې سويې تاريخي ناول کي هم ځای نه لري.

دا کتاب د فارس کروموېل The Persian Cromwell نوميږي او ليکوال يې هم هيڅ نوم نه لري او نامه پر ځای « سوېډنی افسر» ورته ليکل سوي دي.

دا کتاب له دومره بې ځايه او مزخرفو او له ځانه جوړو سويو افسانو څخه ډک دی چي حتی نوم يې په يادولو نه ارزېدی. خو څرنګه چي د ډاکټر لعل زاد يا عبدالخالق لعل زاد په نوم يوه ليکوال، چي زه يې بايد د لوستونکو په اجازه هرزه ليکوال وبولم، ترجمه کړی دی؛ ځکه نواشاره ورته کوم.

کروزينسکي خپل خاطرات ايله په ۱۷۲۶ کال کي، په لاتيني وليکل او وروسته يې همدغه خاطرات د ترکيې د صدراعظم لپاره په ترکي ترجمه کړل. خو په زړه پوري خبره دا ده چي د سوېډني افسر خاطرات په ۱۷۲۴ کال کي په لندن کي چاپ سوي دي. څرنګه چي دا خاطرات، لکه مخکي چي مي وويل، له يو عالم غلطيو څخه ډک دي نو ځکه يې اروپايی ليکوالانو د يوه ماخذ په حيث نوم هم نه دی اخيستی.

سوېډنی افسر ادعا کوي چي د فارس له لاري کندهار ته ولاړ او هلته د ميرويس په خدمت کي حاضر سو او څرنګه چي د قلاګانو په استحکام کي يې يو څه پوهه درلوده نو ميرويس هم دی استخدام کړ.

ليکوال ادعا کوي چي د ميرويس پلار يو تاتار وو او محمدباقر نوميدی خو څرنګه چي د ده د قدرت سيمه، کوچنی بخارا، قلموقانو لاندي کړه نو ده د هغوی حکومت زغملای نه سو او د بلخ پر خوا يې مخ ونيوی. وروسته يې د افغانانو او بلوڅانو په مرسته کندهار فتح کړ او دا يې د خپل قدرت مرکز وټاکی.

د ليکوال په قول، ميرويس په کندهار کي وزيږېدی او دلته لوی سو. وروسته هند ته ولاړ او د مغولي شهزاده ګانو په خپلی منځي جنګونو کي يې برخه واخيستله او ګويا شاه عالم د ده د توري په برکت قدرت ته ورسېدی.

ميرويس د يوه مغول شهزاده مطيع الدين له لور روشن آرا سره واده کوي او له خپلي مېرمني سره کندهار ته ځي. څه وخت وروسته يې پلار محمدباقر وفات کيږي او ميرويس د کندهار پاچا کيږي.

ميرويس بالآخره د فارس د پايتخت اصفهان پر لور حرکت کوي. د اصفهان پاچا له ده سره د مقاومت توان نه لري او تېښتي. يو څه وخت پټ وي او بالآخره بغداد ته ځي او هلته مړ کيږي.

ميرويس هم يو څه وخت وروسته د ايران د پاچا زوی ته تخت او تاج سپاري او پخپله د هغه د سرپرست په حيث کار ته دوام ورکړ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لوستونکو ته معلومه ده چي په دې ټولو ذکر سویو خبرو کې، چي ما يې يوازې يوه وړه خلاصه را اخیستې ده، يوه هم واقعیت نه لري. او زه اصلاً نه پوهېږم چي دا کتاب د څه هدف لپاره لیکل سوی او په لندن غوندې یوه ځای کې څرنګه چاپ سوی دی.

البته بېځایه تعصب د انسان سترګې ړندوي او بیا نو هر کار ته لاس اچوي. خو زه حیران یم چي یوه سړي چي عالي تحصیلات يې هم کړي وي څرنګه د داسي یوه مزخرف کتاب ترجمې ته لاس اچوي او څرنګه له خپل تحصیل څخه حیا نه ورته دريږي. ځکه مي هغه ته د یوه هرزه لیکوال نوم ورکړ.

مأخذونه


۱: کروزینسکي، تادیوش. تاريخ سیاح مسیحی. چاپ کابل. انستیتوت تاريخ مرکز علوم اجتماعي اکادیمی علوم. کابل ۱۳۶۳.

۲: حبیبي، پوهاند عبدالحی. تاريخ مختصر افغانستان. از نشرات سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان ۱۳۶۸.

۳: فرهنګ، محمدصدیق. افغانستان در پنج قرن اخیر. کمیسیون فرهنګی حزب وحدت اسلامی افغانستان. قم ۱۳۷۱.

۴: هوتک، عبدالغفار. هوتکنامه. لاهور ۲۰۰۰.

۵: لاکهارت، لارنس. انقراض سلسله صفویه و استیلای افاغنه در ایران. تهران، چاپ سوم ۱۳۶۸.

۶: ختک، افضل خان. تاريخ مرصع. پېښور، خیبربازار.

7: Hanway, Jonas. The Revolutions of Persia. First published 1753. Reprinted 2017 in India

8: Swedish Officer. The Persian Cromwell. London 1724.




په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشیف



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ